AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

٢٠٢۶/٠٨/٠۶

# په افغانستان کې د سیاسي بحرانونو؛ د تسلسل سرچینې

افغانستان د خپل معاصر تاریخ په اوږدو کې څو ځله د زور له لارې د نظامونو نسکوریدل او د بیا جوړولو هڅې تجربه کړې دي. له سلطنتي نظام څخه نیولې تر نن پورې نیژدې ټول سیاسي بدلونونه د قانوني او سیاسي پړاوونو وهلو په پایله کې نه، بلکې د زور، جګړې، کودتا او بهرني ملاتړ له لارې رامنځته شوي دي. که څه هم هر نوی بدلون د واکمنو لخوا د سولې، ثبات، عدالت او د یوه معیاري نظام جوړولو په شعارونو بدرګه او د ولسي ملاتړ پربنسټ تعریف شوي دي، خو تجربو ښودلې چې د نظامونو نسکورېدل د بحران حللاره نه، بلکې په بل رنګ او بله بڼه د بل بحران رامنځته کیدو پیغام له ځان سره راوړی دی. د افغانستان بنسټیزه ستونځه تر ډېره په نظامونو کې نه، بلکې په سیاسي ذهنیتونو، د واک په غلط درک، د ولس او سیاستوالو ترمنځ د مشروعیت، مسئولیت او احتساب په تړاو د اجماع په نشتون کې نغښتې ده. همدغه نیمګړتیا موږ دې ته اړ باسي چې په لاندې ډول د سیاسي بې‌ثباتي عوامل له فکري او منطقي زاویو څخه وڅیړو.

## د نظامونو د نسکورولو دود

په افغانستان کې د سیاسي تراژیدي له ژورو او تکراري دودونو څخه یو د نظامونو نسکورول دي. دلته د سیاسي اختلافاتو او بحران حل اصلاحاتو ته د مخه کولو، د اجماع رامنځته کولو هڅو، تدریجي بدلون او قانوني لارو غوره کولو پر ځای د توپک او بارود له لارې د نظام د نسکوریدو له ادرس څخه رامنځته شوی او ناورینونه یې زیږولي دی. دغه دود نه یوازې د سیاسي ثبات رامنځته کیدو لپاره اړین تسلسل مات کړی، بلکې زموږ په عنعنوي ټولنه کې یې دغه تصور هم پیاوړی کړی چې واک یوازې د زور له لارې د نیمګړي نظام د سقوط په پایله کې ترلاسه کیدای شي. په داسې چاپېریال کې نظامونه د بنسټیز کېدو فرصت له لاسه ورکوي، پردیو هېوادونو ته د لاسوهنو فرصتونه رامنځته کیږي او هر تازه رامنځته شوی سیاسي نظام د خپل سقوط له خطر منلو او د خپلې بقا لپاره د روا او ناروا لارو کارولو سره ژوندی پاتې کیږي.

## ړوند تقلید د سیاسي ملاتړ معیار

د افغانستان په اوسني چاپېریال کې سیاسي ملاتړ د اصولو او معیارونو له مخې د ولسي هوسایني او مشارکت لپاره د نوښتونو کولو او پروګرامونو وړاندې کولو پر ځای اشخاصو، القابو او فرعي هویتونو ته لیږدول کیږي. کله چې سیاستوال ولس ته د حساب ورکولو ورکولو څخه د ځان ژغورنې او ورته د چوپړتیاوو وړاندی کولو په برخه کې د ظرفیت او هوډ د نشتون سره مخ کیږي نو ځان د یوه قوم یا ډلې مشر وګڼي او د هغوی لپاره د حقونو ترلاسه کولو په نوم غولوونکي شعارونه پورته کړي، نو سیاسي عمل یې له ملي معیارونو څخه نه، بلکې د ډلې او توکم له نوم څخه د ګټه اخیستنې له لارې د ځان لپاره د امتیازاتو غوښتلو له ګراف څخه بڼه اټکل کیدای شي. دغه حالت دوه خطرناکې پایلې لري: یو دا چې سیاستوال له واقعي احتساب څخه د ځان بیمه کولو لپاره د توکم له نوم څخه ګټه پورته کوي، او بل دا چې سیاسي ملاتړ د وړاندې شویو خدماتو د ارزونې پر ځای د احساساتي، قومي، ژبنیو او نورو شاخصونو پربنسټ وړاندې کیږي.

## د احتساب د دود نشتوالی

د همدغو ماتو شویو اړیکو طبیعي پایله له مشرتابه سره د احتساب د کلتور نشتوالی دی. احتساب د شفافیت رامنځته کولو لپاره یوازې قانوني میکانیزم نه دی، بلکې په ولسونو کې د ټولنیز شعور او ملي ویښتابه د شتون نښه ګڼل کیږي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داسي ټولنه چې په هغه کې واک د مسؤلیت له منلو او د احتساب له چاپ سره تړلی وي. متاسفانه په افغانستان کې واک ته د مسئولیت په توګه نه، بلکې د ځواک په تله کې او د زور له ادرس څخه د امتیاز ترلاسه کولو په توګه کتل کیږي. له همدې امله سیاسي مشران د خپلو ناکامیو او نیمګړتیاو په تړاو نور اړخونه پړه ګڼي او سیاسي یا اخلاقي بیه یې نه پرې کوي.

## شخص محوریت

کله چې په نظام کې د احتساب پروسه له منځه لاړه او سیاسي ملاتړ د ارزښتونو پرځای اشخاصو ته د وفاداري او القابو ته د ژمنتیا پربنسټ شوه، نو طبعاً نظام په یوه شخص پورې د انحصار له امله استبداد ته لارې هواروي. سیاسي فضا د استدلال، شورائیت او انتقاد منلو پر ځای د مطلق ملاتړ او مطلق مخالفت (دښمني) ترمنځ وېشل کیږي. په داسې حالت کې مخالف سیاسي نظر د ولسي منل شوي حق په توګه نه، بلکې "دښمني" تعبیرېږي. دغه ذهنیت د ملي اجماع رامنځته کېدو فرصتونه له منځه وړي.

## د واکمن کیدو لپاره زور او بهرني ملاتړ دود

په عملي ډګر کې د دغه فکري جوړښت تر ټولو خطرناکه نتیجه د سیاسي بدلون لپاره له بهرنیانو سره د معاملو له مخې مرسته او یا هم د زور له لارې واک ترلاسه کول دي. په افغانستان کې د واک لیږد زیاتره د قانوني او تدریجي پړاوونو پر ځای د جګړې، کودتا او بهرني ملاتړ له لارې ترسره شوی دی. دغه تکراري تراژیدي نه یوازې د مشروع نظامونو تسلسل مات کړی، بلکې دا تصور یې هم رامنځته کړی چې مشروعیت د ولسي پروسې او قانون پر ځای له زور څخه سرچینه اخلي.

## په سیاست کې د امتیازاتو وېش

په افغانستان کې سیاسي مذاکرات د اساسي قانون او نظام د څرنګوالي باندې د تمرکز پر ځای ډیری وخت د پردیو لخوا د وړاندې شویو نوښتونو په شاوخوا را څرخیږي او له بهر څخه د ورکړل شویو لګښتونو په چوکاټ کې په بیړني ډول د واک د وېش او امتیازاتو ترلاسه کولو په څیر موضوعاتو باندې بحث کیږي . اجندا دا نه وي چې کوم ډول دولت، قانون او سیاسي نظام د ټولني اوږدمهاله ثبات تضمینوي، بلکې مهمه اجندا دغه وي چې کوم قوم، کوم شخص او کومه ډله کومه او څومره برخه ترلاسه کړي. دغه دود راتلونکی نظام له ملي مسؤلیت څخه ژغوري د سهامي شرکت په توګه یې تعریفوي

## د واک انحصار

کله چې حکومت رامنځته شي، نو طبعاً ددې له امله چې واکمنه ډله د ملي اجنډا پربنسټ او د ملي ګټو په چوکاټ کې نه دي سره یوځای شوي، بلکې د امتیازاتو د وېش پر بنسټ سره رضا شوي. په همدغه اساس یې له امتیازاتو څخه د ګټې اخیستنې په هکله ترمنځ جنجالونه او شخړې رامنځته کیږي. په نظام کې د واک د انحصار او یا هم د زیات واک ترلاسه کولو لپاره رقابتونه او تربګنی پیلیږي. کله چې سیاسي واک د یوه محدودې ډلې یا حلقې په لاس کې متمرکز شي، نور ټول قشرونه ځانونه له سیاسي نظام څخه حذف شوي احساسوي. دغه احساس د سیاسي بېباوري، مخالفت او نهایتاً د شخړو او جګړو رامنځته کېدو ته لاره هواروي. انحصار که څه هم لنډمهاله کنټرول رامنځته کولای شي، خو په اوږدمهال کې د مشروعیت بنسټونه کمزوري کوي.

## پایله؛ د بدلون اړتیا

که خبره رالنډه کړو، د افغانستان بنسټیزه ستونځه د سیاستوالو یا یوازې د حکومتونو نیمګړتیاوې نه دي، بلکې په ولس کې د سیاسي شعور نشتون، په واکمنو کې د د واک د درک تشه، او په سیاست کې احتساب د نشتون ستونځه ده. تر هغو چې سیاسي ملاتړ له قومونو، ډلو او اشخاصو څخه د قانون، ولسي ملاتړ، حساب غوښتنې او حساب ورکولو پر معیارونو باندې ولاړ نه وي؛ تر هغو چې سیاسي مخالفت د مشروعیت برخه ونه ګڼل شي؛ او تر هغو چې واک د زور، غنیمت او بهرني ملاتړ له ادرسونو څخه د مشروعیت ترلاسه کولو پر ځای د قانون، ولسي ارادې او ملي مسئولیت له لارې تنظیم نه شي، هر نوی نظام به د پخوانیو ستونځو د تکرار له خطر سره مخ وي. په افغانستان کې د نظامونو نسکوربدل بنایي د ځینو خلکو د واک خوبونه پوره کړي، خو د ولس هوساینه، د هېواد ثبات، عدالت او اوږدمهالې سولې هیلې نشي پوره کولای. د دغه ارمان تحقق د ولسونو او سیاستوالو په ذهنیتونو کې داسې بدلون ته اړتیا لري چې پکې سیاسي ملاتړ د قوم، ژبې، ډلې، انډیوالي او شخصي اړیکو پر ځای د حساب غوښتنې، حساب ورکولو او ملي مسؤلیت منلو پر بنسټ ولاړ وي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ